د شیری او دایمی غاښونو ترمنځ توپیرونه

ددی دپاره باید لومړی غاښونه تشریح شی.

## غاښ

غاښ د سختو انساجو څخه جوړ شوی دی چی کلک ډول او سپین رنګ لری او په سفلی فک کی په margo alveolar کی ځای پرځای شوی دی چی په ژولو ښایست کی اساسی رول لوبوی په دوه ډوله دی

۱: شیری غاښونه

۲: دایمی غاښونه

## شیری غاښونه

Ketabton.com

شیری غاښونه په هره ژامه کی لس عدده دی چی په دواړو ژامو کی شل عدده دی نسبت دایمی غاښونو ته واړه دی شکل او د وظیفی له لحاظه ددایمی غاښونو په شان دی

لومړی د شیری غاښونو هر یو غاښ بیل بیل تشریح کوو

انسیزور غاښونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شیری انسیزور غاښونه په هره ژامه کی څلور عدده دی څنډی یی تیری او د غذایی موادو په قطعه کولو کی رول لری دوه عدده د متوسط خط سره نژدی واقع دی چی د مرکزی انسیزور یا سنټرال په نامه یادیږی او دوه عدده یی نور یی چی متوسط خط ته لیری قرار لری نسبت سنټرال ته د لیټرال په نامه یادیږی په بله معنی لیټرال دسنټرال په څنګ کی واقع دی یا د متوسط خط په دوهم نمبر کی قرار لری چی لیټرال نومیږی

## کنین غاښونه


کنین غاښونه دکپسیډ په نامه هم یادیږی چی د غذایی موادو په څیری کولو کی رول لری په هره ژامه کی دوه عدده دی.

## مولر غاښونه

مولر غاښونه دخلفی غاښونو څخه عبارت دی اوڅو کپسونو لرونکی دی د غذایی موادو په ژولو کی او میده کولو کی رول لری څلو ر عدده دی او نظر موقعیت او ترتیب سره د اول مولر او دوهم مولر په نامه یادیږی.

## د شیری غاښونو شکل

(c) ketabton.com: The Digital Library




:

دایمی غاښونه

دایمی غاښونه دوه دیرش عدده دی چی ۱۶ عدده یی په پورتنی ژامه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کی او ١٦ عدده یی په لاندینی ژامه کی قرار لر ی دخولی په جوف کی تر
پنځه کلنۍ پوری شیر ی غاښونه موجود وی او بیا ٦–٧ کلنی په دوران
کی سفلی اول مولر غاښ لومړنی دایمی غاښ خروج کوی په دی وخت
کی شیر ی غاښونه په تحلیل له منځه ځی او د سفلی ژامی غاښونو وده
کوی او طول یی دریږ ی تر څو کافی فضا د اضافی غاښونو د تهیی لپاره
رامنځته شی

دایمی غاښونه د شیر ی غاښونو ځای نه نیسی بلکی د اول مولر وروسته
قدامی شیر ی غاښونه شروع په ولیدو کوی دا تغیر د یوی نارملی
فزیالوژیکی پروسی په واسطه چی دهغی لاندی دی منځته راځی په
نهایت کی هر شیر ی غاښ له منځه ځی او پر ځای یی دایمی غاښ
راخیژ ی

چی دلته به ددایمی غاښونو هر یو غاښ بیل بیل تشریح کوو

انسیزور غاښونه

انسیزور غاښونه : په هر ه ژامه کی څلور عدده دی دخولی په قدامی
برخه کی قرار لر ی ځنډ ی یی تیر ی او د غذایی موادو په قطعه کولو کی
رول لر ی دوه عدده د متوسط خط سر ه نژدی واقع دی چی د مرکز ی
انسیزور یا سنټرال په نامه یادیږ ی او دوه عدده یی نور یی چی متوسط
خط ته لیر ی قرار لر ی نسبت سنټرال ته د لیټرال په نامه یادیږ ی په بله
معنی لیټرال دسنټرال په څنګ کی واقع دی یا د متوسط خط په دوهم

(c) ketabton.com: The Digital Library

نمبر کی قرار لری چی لیټرال نومیږی.

## کنین غاښونه

کنین غاښونه دکسپید په نامه هم یادیږی چی د غذایی موادو او یا نورو شیانو په غوڅولو او دکلک شیانو په څیری کولوکی رول لری او په هر ه ژامه کی دوه کنین غاښونه قرار لری چی په دوارو ژاموکی څلور دانی دی

## پری مولر


پری مولر غاښونه په هر ه ژامه کی څلور عدده دی چی دا هم دخلفی غاښونو له جملی څخه دی او دغذایی موادو په میده کولورول لری نظر موقعیت او ترتیب په قوسونوکی داول مولر او دوهم مولر په نامه یادیږی

## مولر غاښونه

مولر غاښونه څوکسپونو لرونکی چی تر ټولو شاته موقغیت لری د غذایی موادو په میده کولوکی رول لر ی په هر ه ژامه کی شپږ عدده مولر غاښونه موجود دی او نظر موقعیت او ترتیب دقوسونو داول مولر ،دوهم مولر ،او دریم مولر په نامه یادیږی چی مجموعی تعدادیی په دوارو ژاموکی دولس عدده دي.

د دایمی غاښونو شکل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د غاښ برخې


هر یو غاښ نظر اناټومي ته ددریو برخوڅخه جوړ شوی دی.

- تاج : crown تاج دخولې په جوف کې په نارمل ډول سره د لیدو وړ دی چې د ایناملل په واسطه پوښل شوی دی خو د هر غاښ تاج د هضم په پروسه کې د وظیفه له مخې فرق کوی
- د غاښ غاړه cervical : د تاج اوریښې تر منځ سرحد جوړوی یعنې تاج او ریښه سره بیلوی .
- ریښه root : د غاښ دا برخه دخولې په جوف کې د غاښنې قوی په ساکت کې غرس ده او د سمینټیم په واسطه پوښل شوی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غاښ برخې د اناټومۍ له نظره

:



(c) ketabton.com: The Digital Library

یادونه :که چیرته موږ د عضویت قدایم د mid line پر اساس پر دوو برخو وویشو نو دخولی جوف به په دوو برخو وویشل شی چی دخولی په جوف کی دوه دژامی قوس ته arch maxillare اولاندی ژامی ته arch mandibulare وایی چی دواړه ژامی په څلورو برخوو ویشل شی او هر څلورمه برخه د quadrant په نامه یادیږی .

Maxillary right quadrant

Maxilla left quadrant

right quadrant Mandibulla

left quadrant Mandibula

چی دخولی په هره څلورمه برخه کی ۲ انسیزور ۱ کنین ۲ پری مولر ۳ مولر غاښونه موجود دی

د میډلاین له نظره د غاښونو سطحی surface of the teeth په لاندی نومونو هم یادیږی.

Mesiobuccal نزدی د رخسار

Disto buccal

د رخسار نه لری

Disto lingual د ژبی نه لری

Meso lingual

ژبی ته نږدی

(c) ketabton.com: The Digital Library

Gingivaد وریو مربوط

Surface of the teeth

غاښونه په خپل قوس کی د موقعیت له نظره دځو سطحو درلودونکی دی چی په لاندی ډول تری یادونه کوو.

د غاښونو مخکینی نیونکی برخی ته incisal او د شاتنی غاښونو ژونکی سطحی ته occlusal وایی.

همدا رنګه په عمومی ډول پلاتینال او لینګوال ته oral او لابیال او بوکال سطحو ته facial وایی .

دغاښونو مورفولوژی او هستولوژی

دخولی په جوف کی غاښونه منډیبولا په پورتنی او د مګزیلا په لاندینی برخه کی Margo alvilaris کی راختلی دی

غاښونه چی کلک ډول او سپین رنګ لری دخولی په جوف کی د مهمو مسایلو لپاره موقعیت او یو ډول مهمی دندی لری چی پهّ لاندی ډول دی

۱: د غذایی موادو په میده کولو اوټوټه کول

۲: ژول

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳: دخولې دجوف محافظت او ساتنه

۴: ښایست

۵: دخبرو کولو نظم

## Enamel مینا

د غاښ تاج یا میناچې د امینو بلاسټ حجراتوڅخه ترکیب شوی یو کلک نسج دی او د غاښ ساحه یې پوښلې دی

د مینا یا ایناامل خصوصیات

میناچې له امیلو بلاسټ حجراتوڅخه جوړ شوی دی چې وروسته له تشکیل او وظیفوی اوصافوڅخه وظیفوی اوصاف له لاسه ورکوی او د یو متجانسی مادی په ډول پاتی کیږی .

که د مینا طبقه تخریب شی وروسته بیا د ترمیم قابلیت نه لری

د مینا طبقه خپل ترکیب کی کاربو نیټونو کلسیم او فاسفورس درلودونکې ده همدارنګه ویلی شوچې د مینا طبقه ۳ فیصده ایونیک ۹۷ فیصده اورګانیک موادوڅخه جوړه اومنځ ته راغلې ده نو که چیرته کالسیفیکیشن یې ضعیف وی نو داسید په مقابل کی هم ضعیفه پاتی کیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library

اینامیل ،مینا یا تاج دند ی :

داچی مینا یو کلک او مقاوم نسج دی نو د بیرونی فشار مقاومت دداخلی انساجو ساتنه او دا بریژن په مقابل کی د مقاومت دنده په غاړه لری همدا رنګه دکیمیاوی او اسیدو عواملو په مقابل کی یو ساتنیز پوښ بلل کیږ ی

د اینامیل پلنوالی د غاښ په مختلفو برخو پوری اړه لری ځینی ځایونو کی پنډوالی تر ۵ ملی مترو پوری لکه په وکلوزل برخه کی او دغاښ په عنق کی پنډوالیتر ۱۰۰ ملی مترو ته رسیږی

Dentin

له اینامل څخه وروسته د ډینټین ساحه بلل کیږی چی دغه ساحه له اوډینټو بلاسټ حجراتو څخه ترکیب شوی ده چی له یو ی خوا یی اینامیل ته کلسیم او فاسفورس تهیه کړی او له بله خوا یی خپل منځ کی یو ه خالیګاه پریښی چی دغاښ عصب پکی مو قعیت لری

د یادونی وړ ده چی ډینټین په خپل ترکیب کی ۷۳ فیصده اورګانیک او ۲۷ فیصده ایونیک مواد لری .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Cement

سیمنټ څه شی دی؟

سیمینټ له سیمینټو بلاسټ حجراتو څخه جوړ شوی نسج دی چی په جذری ساحه کی ډینټین پوښ کړل کیږ ی .

سیمینټ خاصیت :

سیمینټ د هډوکو په شان سخت او کلک ساختمان لری چی غاښ ته یی الیول کی د ډینټل لیګامینټ په همکاری استحکامیت یا کلکوالی وربښلی دی .

## Pulp

یو منظم نرم نسج دی چی د غاښ په خالیګاه کی قرار لری او شکل یی د غاښ اناتومیک شکل په شان دی اوپه دوه برخو ویشل شوی دی ۱ تاجی پلپ ۲ جذری پلپ

د پلپ دندی :

تغذیه ،ساتنه او د فاع ،اوحس کول

## Periodontium

د غاښونو ساتونکو او کلکونکو انساجو څخه عبارت دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

Gingiva

وری چی له غاښونو مخکنی مشتقاتوڅخه دی چی د غاښونو شاوخوا د خولی په جوف کی د پاملرنی وړ گرځی .

## د شیری او دایمی غاښونو ترمنځ توپیرونه

۱:د شیری غاښونو رنګ نسبت دایمی غاښونو ته سپین وی روښانه وی یعنی د شیری غاښونو رنګ نسبت دایمی عاښونو ته سپین وی او ددایمی غاښونو رنګ زیړ وی

۲:د شیری غاښونو ریښی نسبت دایمی غاښونو ته اوږدی وی

۳:ددایمی غاښونو مینا زخیمه وی مګر دشیری غاښونو غاړه تنګه وی

۴:د شیر ی عاښونو تاج نسبت دایمی غاښونو ته په طول عرض او پلنوالی کی وړوکی وی

۵:د شیری غاښونو ریښی نسبت دایمی غاښونو ته کمزوری دی یعنی ددایمی غاښونو ریښی کمزوری او د دایمی غاښونو ریښی قوی دی

٦:د شیری غاښونو سیز نظر دایمی غاښونو ته کوچنی دی او دایمی غاښونو سیز لوی دی مګر د شیری غاښونه واړه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷:د شیر ی غاښمونو توبرکلونه نسبت دایمی غاښونو توبرکلونو ته کوچنی وی

۸:د شیر ی غاښونو تعداد نظر دایمی ته کم دی د شیر ی غاښونو تعداد ۲۰ عدده دی چی ۱۰ یی په علوی فک او ۱۰ یی په سفلی فک کی موجود دی

خو ددایمی غاښونو تعداد بیا ۳۲ عدده دی چی ۱٦ یی په علوی او ۱٦ یی په سفلی کی موجود دی

د شیر ی غاښونو د راشنه کیدو وختونه ددایمی غاښونو د راشنه کیدو سره فرق لر ی

چی له دی څخه یی لومړی د شیر ی غاښونو دخروج وختونه مطالعه کوو

| د غاښونو نومونه | علوی ژامه | سفلی ژامه |
|---|---|---|
| Central Incisive | ٦ میاشتنی | ۷-٦ میاشتنی |
| Lateral incisive | ۱۲ میاشتنی | میاشتنی ۱۲-۷۴ |
| canine | ۱۸ میاشتنی | ۱۸ میاشتنی – ۴ کلنی |
| First molar | ۲۴ میاشتنی | ۳۰-۲۴ میاشتنی |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| Second molar | ۳۰ میاشتنی | ۳۰ میاشتنی |

## ددایمی غابښونو دخروج وختونه

| د غابښونو نومونه | علوی ژامه | سفلی ژامه |
|---|---|---|
| Central incisive | ۷–۸ کلنی | ٦–۷ کلنی |
| Lateral insicive | ۸–۹ کلنی | ۷–۸کلنی |
| Canine | ۱۰–۱۱ کلنی | ۹–۱۰ کلنی |
| Pre molar | ۱۰–۱۲ کلنی | ۱۰–۱۲ کلنی |
| Second pre molar | ۱۰–۱۲ کلنی | ۱۱–۱۲ کلنی |
| Molar | ٦–۷ کلنی | ٦–۷ کلنی |
| Second molar | ۱۲–۱۳ کلنی | ۱۱–۱۳ کلنی |
| Third molar | ۱۷–۲۹ کلنی | ۱۷–۲۹ کلنی |

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹:د شیری غاښونه غورځیږی مګر دایمی غاښونه همیشه دپاره دخولی په‌جوف کی پاتی کیږی تر بوډاوالی پوری.

د شیری غاښونود غورځیدو وختونه

| د غاښونو نومونه | علوی ژامه | سفلی ژامه |
|---|---|---|
| Central incisive | ۷,۵کلنی | ۶کلنی |
| Lateral incisive | ۸ کلنی | ۷ کلنی |
| Canine | ۱۱,۵ کلنی | ۹,۵کلنی |
| Molar | ۱۰,۵ کلنی | ۱۰کلنی |
| Second molar | ۱۰,۵کلنی | ۱۱کلنی |

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۰:په ګراف اخیستنه کې د شیری او دایمی غاښونو تر منځ غټ فرق وجود لری

په universal system کې د دایمی غاښونو دپاره له عربی اعدادو له یوڅخه تر ۳۲ پورې او د شیدو غاښونو دپاره د انګلیسی ژبې له ای څخه تر ټي پورې حروفوڅخه کټه اخلو

په دغه سیستم کې یو ۱ عدد د نا روغ د ښب طرف د مګزیلا له دریم مولر یا ویسډم او ۳۲ مه شمیره دناروغ ښې طرف منډیبولا ددریم مولر یا ویسډم څخه عبارت دی

همدارنګه ددی سیستم له مخې شیدو غاښونو کې ای حروف دناروغ ښې طرف د مګزیلا دوهم مولر اوټي حروف د ناروغ دښې طرف د منډیبولا دوهم مولر څخه عبارت دی

ددایمی غاښونو ګر اف :

(c) ketabton.com: The Digital Library

| Permanent Teeth | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Upper Right | | | | | | | | | | | | | | | Upper Left |
| 1 | 2 | 3 | 4 | 5 | 6 | 7 | 8 | 9 | 10 | 11 | 12 | 13 | 14 | 15 | 16 |
| 32 | 31 | 30 | 29 | 28 | 27 | 26 | 25 | 24 | 23 | 22 | 21 | 20 | 19 | 18 | 17 |
| Lower Right | | | | | | | | | | | | | | | Lower Left |

د شیری غاښونو ګراف :

(c) ketabton.com: The Digital Library

| Primary teeth | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Upper Right | | | | | | | | | Upper Left |
| A | B | C | D | E | F | G | H | I | J |
| T | S | R | Q | P | O | N | M | L | K |
| Lower Right | | | | | | | | | Lower Left |

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**